**ليکونکې:** پروفيسورجيمز پتراس (Prof.James Petras)،
**منبع او د نشريدو نيټه :** ګلوبال ريسرچ «۲۰۱۶-۱۰-۳» .
**ژباړونکې :** پوهندوی دوکتور سيدحسام «مل» .

---

# بربريت په وينا اوپه عمل کې

## دامريکی دمتحده ايالاتوبربريزم اودامپرياليزم بی بديل جنګونه .

## Barbarism in words and Deeds

Barbarism of US imperial wars is unmatched

هغه څه چې روسيه په سوريه کی تر سره کوی دا دتروريزم پرضد کړنه نه دی بلکه صاف اوسوچه بربريزم اووحشت دی . داهغه بی پايی خبری دی چی دامريکی دمتحده ايالاتو سفير آغلی سا م سا منتا پا ور(Sam Samantha power) په ملګرو ملتونو کی دخپل وينا په ترڅ کي ياده کړ.



د ملګروملتونوپه سازمان کی دامريکی د متحده ايالاتوسفير **سام سامنتا پاور** په ناسم عباراتوسره دروسی اود سوريی دولتونه د بربريزم په نوم تورن کړ اوداسی ادعا وکړ چې مسکو اود مشق دملګرو ملتونو دبشری مرستو پر بی وسلی کا روان باندی کوم چی هغوی دسوريی په حلب کی ملکی کلا بند شوی خلکو ته مرستی رسول تر يرغل لاندی نيولی اوهغو ته ستر تاوان رسولی دي – حال داچی دهغی د دغه بيهوده اوناسم عبارات اوادعا په اړين کوم روڼ شواهد هم په لاس کي نشته اوداځکه چي داډول بيهوده ادعا او ګوابښونه کوم يوډول اثبات ته ضرورت نه لری بلکه ګوابښ اوتهد يد يواځی يو

*عاطفی اویو ناڅاپه ګذار دی چي د ډله ایز پروپاګندی ارګانونو د پاره د تبلیغا تی موادو برابول دي .*



*سام سامنتا پاور دامریکی سفیر*

*دبربرانو اودهغودرهبرانو اودګروپونودڅیری اودهویت راښکاره کول اویا دباندی ایستل کوم چی دټولو منل شوی متمد نو نورمونو اوقوانینو څخه سرغړونه کوی یوائی هغه ډلی اوټپلی دی چی د مسلح قوتونو په مقا بل کی له ځا نه غبرګون ښیی.*

*دامریکی دمتحده ایالاتو د سفیر وینا په دغه موجوده حالاتو اوشرایطو کی کوم چی روسیه اوسوریه یی دبربریزم په نا مه سره تورنوی دا د دی د پاره دي چي دامریکي د متحده ایالاتو دهوایی قوتونو هغه برید اویرغل چي دسوریی په یوه نظامي اډه کی ترسره کړ اودهغه په ترڅ کی دسوریی یوزیات شمیر نظامیان خپل ژوند دلاسه ورکړل او نژدی (۲۰۰) نور سوریی نظامی ځواکونه کوم چي د داعیش سره په جنګ اخته وه تېپیان شو غواړی چي د نړی پام بل خواته واړوی اودامریکی د متحده ایالاتو د نظامی هوای د قوتونو په دغه نا سم چلند با ندي برغولی کیږدي.*

*یا په بل عبارت دسوریي سربازان دبربرانو په نوم نومول پخپله دامریکي د متحده ایالاتو دسفیر یو له کیني ، کرکه اوغیر انسا نی چلن څخه بل شي نه دی کوم چی په عمدی بڼی سره دسوریی دغه ځوان قربانیان دامریکی دمتحده ایالاتو دجنګي جنا یا تو په لړ کی خپل ژوند دلاسه ورکوي .*

*راځی چي دتروریزم په مفهوم اومحتوی باندی اوله هغه څخه دخپل غوښتنی دریخ دترلاسه کولو دپاره بربریزم په هراړخیز بڼی سره تحلیل اوتجزیه کړو او په دی ځان وپوهو چي دبربریزم د صفت په کاروړل چیری منا سب دی اویا چیری مناسب نه دي .*

**بربریزم په عمل کي**: په تیره یوه نیم لسیزه کي دامریکی متحده ایالات اودهغه سره اروپایی جګړه مار حلقی پر یو شمیر هیوادونو لکه افغانستان ، عراق ، سومالیا ، لیبیا ، سوریه ، یمن او لیبیا باندی تیری ، یرغل کړي اود هغه په ترڅ کی بی شمیر بی ګناه ملکی خلک وژلی ، تېپي کړی اوپه میلینونو خلکو له خپلو کورونو هیوادونو اوټاټوبی څخه بی ځا یه کړي اوپه سیستیمیک بڼی سره د نوموړی هیوادونو اقتصادی جوړښتونه د خاوری سره خا وری کړي ، قومی ، ژبني ، سمتي ، نژادی ، مذهبی اختلافا تو او جګړو ته لمن وهلی دکورنیواړیکي سره شلولي اوپه نو موړی هیوادونو کي د خپپل سیاسي ګټی په نظر کی نیولو سره یوشمیر لاس ناستی او ګوډاګي مفسد حلقی په قدرت ګما رلی دی چي د نړی ټولو خلکو ته لکه د لمر دوړانګی په بڼه روښا نه ښکاري .


دامریکی دمتحده ایالاتو پواسطه سره شکنجه ورکول ، بی دکوم موجب دخلکو بندی کول د منل شوی بین المللی میثاقونو اونورمونو څخه سرغړونه اوپه هیوادونو کی بی نظمی ته لمن وهل اوټولنی په هرج ومرج سره مخه کول هغه څه دي چي دامریکي دمتحده ایالاتو د پا لیسی یوه روښانه بیلګه اویو ډاد منه پالیسی په ګوته کوي — د ټولنیز جوړښتونو له مینځه وړل اود ګڼ شمیر نفوس اودخلکو په مینځ کی دجګړی ، اوشخړی ته دهغو هڅول او تحریک کول هغه څه دی چي دهغه په ترڅ کي په میلینونو خلکو دی ته مجبور کړل چی په مهاجرت لاس پوری کړی اوټولنه له بیخه سره دړی وړی شي نوپه دی اسا س دا مریکی د متحده ایالاتو دامپریالیستی دغه اګاهانه چلن اوپریکړی ددی موجب وګرځیدل چي ښارونه له خلکو څخه تش اوخالی شی اوخلکو دژوندي پا تي کیدو په خاطر ګا وندی هیوادونو ته کډه وکړی دخپل کورنی نژدی اړیکی وشلوی اوپه دي ډول دبی شمیر ځوان عربی اومسلمان ځوانانو ژوند دتباهی کندی ته مخه کړی.

نو دلته دی بی ویلو پا تي نشی او هغه داچي هماغسی چی تردغه اشغال لاندی هیوادونو کی دانسانی تلفاتو کچه پورته ځی نو په همغه تنا سب سره خلک مجبورکیږی چه نورو هیوادونو ته ګډه وکړی چی ددی وضع در امینځته کیدو اصلی عامل دامریکی د متحده ایالات اودهغه داندیوالونو دتهاجمی اودیرغلیز جګړی پا یله دی اوداځکه چی دامریکی دامپریالیزم دافکارو دا یوه منل شوی اصل دی چی خپل مخا لفین او نیوکي کونکي په یو اوبل شکل دځان سره په دغه وحشیا نه او بربرمنشا نه پالسی ګډوی اوپه دی توګه هغوی بد نا موی .

یوه ډیر مهم مطلب او هغه داچی ګستاخ چپاولګر امپریالیستان دخپل ناوړی سیاست دلا ټینګولو او د پلی کولو د پاره دهغو درهبرانو دناهیلو اود نهایی ما تی هغه پا یلی دی کوم چی دخپل دناهیلی کیدو او یا د ما تی خوړلو براس د خپل نا وړی اوله قهره ډک ددیپلوماتیک په ژبی با ندی باسی یا په بل عبارت هغوی په ناوړی دیپلوماتیک ژبی

باندی خپل نا امیدی اوخپل نا کا می ښکا ره کوی .

بربران دبربرانو دمیندلو په لټه کې : د امریکي پر متحده ایالاتو با ندي اصلی یرغل کوونکي دښمنان نه روسیه ، نه چین اونه هم ایران دي اوهم نه په نړي کي کوم داسي خپلواک هیواد چي پر امریکي باند تیری وکړي اویا نه کوم هیواد چي دنورو هیوادونو په داخلي چارو کی مداخله وکړی اودهغه به ترڅ کی میلیونونه انسا نان کډوالی ته مجبورکړی لکه چي دامریکي متحده ایالات نن د ټولو بی ځا یه شوی او کډوالی ته مجبور کړ شوی یوهیواد دی




روسیه دسوریی ددولت په رسمي بلني سره دتروریزم دیرغل دمخنیوی دپاره سوریی ته راغلی یعنی دهغه تروریستانو دځپلو اودمینځه وړلو دپاره چي غواړي سوریه ټوټی ټوټی اودړی وړی کړی ، اودبلی خوا څخه ټولو ته څرګند دی چي کریمه په انتخاباتو کی پخپل خوښه د مسکو سره خپل یوالی او اتحاد اعلان وکړ اوروسی سره بیرته ملحق شو، مسکو دعراق ، یمن ، اولیبیا کی دهغو هیوادونو په چارو اوروانومعضلاتواو جګړو کی له هر ډول لاس وهنی څخه ډډه وکړ کوم چي دغه دروسی پالیسی په هیڅ بنې سره دامریکی دمتحده ایالاتو دبربریت له شدت څخه څه کم ونکړ اودهغه هیواد بربر منشا نه لاس وهنی دنوروهیوادونو په چارو کی لاپسی پرمخ لاړ اودهری ورځی په تیریدو سره دامریکی د بربریت دغه پالیسی پرمخ ځی .

هرچاته دتاریخ له پاڼو څخه را څرګند دی چي غربی نړی د آسیا په وچه کی پرځنی هیوادونو لکه پر ویتنام ، فلپین ، جاپان اوپه افغانستان باندی په مختلفو بی بنیا دو پلمو سره تجاوز وکړ- جاپان اوس دامریکی دمتحده ایالاتویومتحد اودهغه سره یو تړلی هیواد

دی کوم چي همدغه جاپان پر چین ، کوریا اوپرجنوبی آسیا کی هم په تیرو وختونو کی تجا وز کړی او هغو هیوادونو ته دروند نقصان رسولی دي ، دبلی خوا څخه خپله چین هیڅکله دنورو هیوادونو په چارو کی لاس وهنه نه دی کړی ،همدارنګه ایران هم د خپل تاریخ په اوږدو کی په کوم بل هیواد باندي تیری نه دی کړی اما په کال ( ۱۹۸۰ ) کی دایران تجا وز پرعراق باندي دامریکی دمتحده ایالاتو په تحریک او دهغه په ملاتړ سره صورت ونیول کوم چي په هغه لس کلن جګړی کي په میلونونو انسانان مړ او بی ځا یه شول.

که دبربریت معیار اومقیاس دجګړی په لار اچول ، پرنورو هیوادونو با ندي تیری او تجا وز کول د تیولنی تخریبول اود ملینونو خلکو مجبو رول کډوالی ته وي نو په هغه صورت کي د امریکی متحده ایالات ، اروپا اود جاپان چاروا کی او جګړه ما ران په ښکاره بڼی سره برابران اووحشیا ن دي .

نوددی معیارونوڅخه پرته دامریکی دمتحده ایالاتود سفیر آغلی **سا م سما نتا پا ور** ادعا اوتورکاملاً بی بنیا د او د پرتو، ابلتو په تونل کی ور ننوتل دی اوبی له خود ستایي څخه بل شی نشی کیدای ، بلکه یو ډول وحشیانه اوبربرمنشانه چلن اوکړنه دي اوپه بشپړ بڼی سره دمنل شوی سیاسیی اودیپلوماتیک نورمونو څخه یوښکاره انحراف دي او ځان غولونه دي ،اودا پخپله له سره دتروریستی شبهه نظامیانو او د بربرانو څخه په ښکاره ډول ملاتړ اوهغوی د «شورشیانو » اود«مینځ لارو » په نوم نومولو سره خپله دبربریت دلمن پراخوالی دي کوم چي دغربی امپریالیزم له محراق څخه نوری سیمی او څنډ و ته تیل وهل اوغزول دي اوپه بل عبارت په عمدی بڼی سره د بربریت پراخول دي چی دا پخپله په یو مفهوم سره دغرب د قد رت د راتیتید و ا ود کمزورتیا علامه اونښی نښا نـي دي .

نتیجه : په لرغوني یونان کي هغه کسا نو ته بربران اووحشیا ن ویل کید ل چي د امپرا توری څخه د با ندي د تمد ن په ژبه سره خبری نه کول اوپه وحشیا نه بڼی سره دا مپرا توری پر شتمنی اویا پربیت الما ل با ندي یرغل وړل اوهغه شتمنی یی لوټول اما نن موضوع بیخي سرچپه شوی او هغه داچي اوس وحشیا ن او یاغیا ن یا بربران دامپراتوری په دننه کی سر اوچتوی او بیا په د با ندی کي لمن غځوی او په چور اوچپا ول لاس پوری کوي یعنی امپریالیستی رهبران اوچاروا کی په دوامدار جګړو ، په انسان وژني ، اود خلکو په شکنجه کولو ، استثما رکولو ، لوټولو سره بخت دي حتی تردی ځایه پوری چي هغوی دخپل ټولني داقتصاد په ویجاړتیا اودټولني داقتصادی څرخ په راپرځولو کی هم دخپل ګټی په نظرکی نیولو سره له هیڅ هڅی اوا ند څخه نه سپموی ټولنه په فقر ،جهل ، پور ، په دوایی اعتیاد سره اخته کوی جرم اوجنایت ته پراخوالی ورکوی اودبلی خوا څخه دغه وحشی بربرمنش امپراتوری فرهنګ اولرغونی تمدنونه

چې دټول بشریت د پیړیو پیړیو دز یا ر اوزحمت محصول وه یعنی یو ستر تا ریخی فرهنګی میراث وه هم له مینځه ویوړ لکه د بیلګی په بڼه دعراق او دسوریی تاریخی اولرغونی فرهنګ چی د ټول بشریت له افتخاراتوڅخه ګڼل کیدل دځا وری سره ځا وری کړل اود قبول شوی عالی فرهنګ پر ځای پرخلکو باندی خپل سپک او احمقانه فرهنګ تحمیلول لکه خلک د مخدره موادو سره معتاد ګرځول د الکترونیکی وسا یلو څخه کار اخیستل هغه څه دی چی نن جمیعتونه ددی ډول طفلانه فرهنګ سره ستونزی لری او له دی ډول فرهنګ څخه کرکه لری . اوبیا همدغه دبربرانو اودوحشیا نو امپراتوری ټول قانونی سیستمونه دقانون ګذاری انستیتوتونه او نهادونه دلالان ، صرافا ن او په فساد سره لړلی جاهل اوناپوه خلکو ته سپارلی دی تر هغه ځایه پوری چی دعامه خلکو فضا او تشه ځایونه دخپل ممتاز او لوړپوړی نا پوه قشر اونحبګانو دپاره په تیټي ، لمبا نځی «تشناب) باند ی اړولی دی او خلکوته هیڅ اجازه نه ورکوی چی په دی اړه څه ووایي یعنی د و یلو نه ویلو لاری له سره سره تړلی دی .

دغه دامپراتوری واکمنان انتخاباتی ننداره اودهغی تماشا د منطقي بحث اود منا ظری پرځای دجمهوری دټولو اصولو اودا ساسا تو په کمزورولو سره غواړی انتخابات بی مفهوم اوبی معنی کړی اوهغه داچی دغه دامپریال فا تحان او عا لمګیران په یو نظامی میتافزیکی اند یښنی سره نشی کولی چی یو وران اویجاړ استعمار کړل شوی ټولنه له سره ورغوی او له بلی خوا څخه ددی توان هم نه لری چي د نورو څخه څه شی زده کړی اویا له خپلو اسیرانو اوتر لاس لاندی له پوه او د ښه اند یښننی لرونکو خلکو څخه بهره اوګټه تر لاسه کړی لکه چي رومیا نو داسیرو یونا نیا نو څخه پوه او علم تر لاسه کړل دغه مغرور اوناپوه امپرتوری واکمنان دخپل فاتحانو پواسطه سره دخلکو تر پښو لاندی کړل شوی خمکه اودهغه ځمکی خا وری په داسی شوره زار باندی بد له کړل چی نور نو دهغه څخه دحاصل او دفصل د ترلاسه کول تمعه له مینځه ویوړل .

ددغه وحشی اوبربرمنشا نه امپریالیزم دجهانی مفهوم دنوروسره دجګړی دوام دی او هغوی هیڅکله دانسان له قیمتی خزانی (ګنجینی) څخه نشی کولای چي څه معنوی بهره ترلاسه کړي او یا له هغه څخه څه شی زده کړي اودا ځکه چي دغه انسا ني خزانی اوشتمنی د دوی د عیا شی اود بی فکری له امله دړی وړی اوله مینځه وړل شوی اودخاوری سره خاوری کړل شوی دوی دخپل سرشت له مخي په دبا ندی کی تروریستی کړنی ترسره کوی اود کور په د ننه کی په چل او فریب سره پرخلکو حکومت کوي لکه هسی چي په ملګرو ملتونو کي دامریکی دمتحده ایالاتو سفیر دیو نا رسید لي او دیو وړه کوچنی په بڼه ساما نتا پا ور ( Samantha Power ) دبین المللی له تربیون څخه په فصاحت اوبلاغت سره خپل تبجن اوهستیریک آواز پورته کړ لکه چي څوک د مرمرو د ایکو له کوټی (هغه ډول خونه چي د هغه په دیوالونو کی سوری را ایستل کیږی چي آواز ته انعکاس ورکړي) څخه غږ پورته کړ .

*په پای کې دغه امپراتوری بربران د تیښتی په وخت کی به د خپلو لاس پوڅو او تابع نوکرانو پواسطه سره به کلا بند اومحا صره شی او دا هغه وخت دی چې هغوی د خپل ورستید و (ګند ګی) اود داخلی مقا بلی په ترڅ کی سره دړی وړی اومنحل شوی اوسی او هغوی دی ځای ته ورسیږی چی آیا دوی په دی اخری نړیوال اور لګید و کی دنورو سره داورلګید نی په له مینځه وړلو کی برخه اخلی او آیا له خپل وحشیا نه او بربرمنشا نه کړونو څخه لاس په سرکیږی ؟ عد الت ، قا نون اوتمد ن ته مخه کوی اویا څنګه ؟*

---------------------------------------- **په درناوی ۲۰۱۶-۱۰-۹**